
لنډه کیسه
Ketabton.com
رژیدلي
پاڼې

ketabton.com - The Digital Library



# کتاب نوم:

# رژیدلي پاڼي

## لیکوال:

## محمد صمیم فیضي

شمیره:

۰۷۸۴۰۰۳۱۵۷

۰۷۷۳۰۹۸۶۱۱

## دیزاین:

## نصیب الله فیضي

۰۷۰۰۴۶۵۳۶۰

ketabton.com - The Digital Library



# ډالۍ دی وي!

**تــولــــو**

**درنو**

**لوستونکو**

**تـه**

**!**

ketabton.com - The Digital Library



## سريزه

مينه د زړه هغه اور دی چې د خوښۍ لمبې يې روح تاوده ساتي

خو جدايي د هماغې لمبې سوړوونکی باد دی چې هرڅه له منځه وړي

مينه د اميد سندره ده او جدايي د هيريدو غمجن ساز

په مينه کې انسان د نړۍ ښکلا ويني خو په جدايي کې د زړه هر رنګ خړ وي

دا دواړه مينه او جدايي د ژوند دوه بيلې لارې دي چې کله يوځای راشي

د احساس تر ټولو ژوره کيسه جوړوي

مننه.

ketabton.com - The Digital Library



***

د شپې تیاره د کلي د غرونو په غیږ کې خپره وه،یواځې د سپوږمۍ سپینه رڼا د کوڅو پر خاورو او د بڼو پر ونو خپره وه،

د باد په څپه کې د انارو د ونې له څانګو وچې پاڼې پر ځمکه رالویدې،

لکه د چا د زړه ټوټې چې ورو،ورو را پرېوځي په دې آرامه خو د رازونو ډکه شپه کې امید له اوږده کار وروسته کور ته

ستنیده. د کلي پر تنګه کوڅه تیریده خو د یوه زاړه دیوال شاته یې یو ورو خو خوږ آواز واورید..

لکه څوک چې له زړه نه ټپې وایي.

امید ودرید د زړه درزا یې تیزه شوه،ورو ورو یې ګامونه اخیستل او ځان یې د دیوال څنګ ته ورساوه..!

هغه د سیلۍ نومې نجلۍ خوږ غږ و،هغه هماغه نجلۍ وه چې د کلي یوه خندېدې کې د خپل ناروغ پلار سره ژوند کاوه.

خلکو د خبرو له ویرې ډیر لږ له کوره وتله.

امید د ماشومتوب له وخته راهیسې سیلۍ پیژندله خو د دواړو ترمنځ هیڅکله داسې خبرې نه وې شوې چې د زړه په ژورو کې

یې اور بل کړي.

په همدې شپه د دیوال شاته سیلۍ د خپلې مور زوړ چمبه (داریا) او له اوبو ډک لوښې په لاس کې نیولی وه

او د یوې زړې ټپې بیتونه یې تکرارول:

هلک چې تور شي لونګین شي

جینۍ چې توره شي بنګړي دې خرڅوینه

امید د ټپې په اوریدو له ځانه سره موسکې شو خو ټپې لا دوام درلود:

د نیمې شپې سندرې خوند کړي

څوک به مئین وي چا به یار بیللي وینه

امید ته داسې ښکاره شو لکه دا خبرې چې یواځې د هغه لپاره وي،د زړه نه راوتلې او د زړه په ژورو کې ورننوتې.

د بلې ( بام ) پر سر د سپوږمۍ رڼا د سیلۍ پر مخ خوره وه.

امید بې اختیاره غږ کړ: سیلۍ..!

نجلۍ ودریده لکه چې له خوبه راویښخ شوې وي،ورو یې مخ یې را وګرځاوه..

دواړو یو بل ته کتل هغه هم په داسې انداز کې چې ته به وایې په کلونو،کلونو یو بل سره نه وي لیدلي.

ketabton.com - The Digital Library



د څو شیبو لپاره د مینې په تار یې خوله ګنډل شوی وې او یوه خاصه چوپتیا یې خوره کړې وه،خو د دغې چوپتیا سره کله، کله د باد څپو د لیرې ځایه د سپیانو د غپا آوازونه راوړل.

امید ورو وویل: ستا غږ مې اوریده،لکه چې کومه تپه دی ویل؟

سیلۍ هڅه وکړه تر څو موسکا وکړي خو شونډې یې ولړزیدې ورو یې وویل: کله چې زړه دردوونکې وي غږ هم اوښکې تویوي.

همدلته د دواړو د ژوند یوه نوې پاڼه پرانیستل شوه،هغه پاڼه چې له مینې، پټو کتنو او د ټولنې زولنو سره له مبارزې ډکه وه.

خو د تقدیر او د کلي د خلکو سخت فکرونه داسې خنجرونه وو چې هره شیبه یې د دوي پر خوښۍ باندې برید کولو ته چمتو وه.

له همدې شپې ورسته امید هره شپه د دیوال شاته د سیلۍ د نازکو شونډو څخه چې کومه تپه وتله ورته غوږ وو...

سیلۍ پوهیده چې د دیوال غاړې ته څوک د هغې هره کلمه،هره ساه او هره خاموشه شیبه په زړه کې زیرمه کوي.

ورځنۍ تګ راتګ هم بدلون وکړ،امید د کلي له منځه تیریده یواځې د دې لپاره چې د سیلۍ د کور دروازې ته لږه شیبه ودریږي ګواکې د کوم کار په تمه دې،خو په حقیقت کې یې یواځې هیله دا وه چې د هغې یوځل سیورې ووینې.

د کلي د خلکو ترمنځ دغه نازک او پټ اړیکه لکه د اور لمبه وه..!

چې په وچې خاورې کې یې ځای نیولې وي،هره شیبه د چا د پښو تر تلې لاندې راتلای

شوه او د ټولو د ژوند پر بنه اور اچولې شوای.

امید چې په هماغه شپه د سیلۍ سترګو ته یې لومړي ځل د زړه له کومې کتلي و هغه هرڅه هیر کړي وو.

د کلي د جومات له چت نه د آذان لومړې آواز پورته شو،خو هغه لا هم د خپلې کړکۍ څنګ ته ناست وو

او د سپوږمۍ وروستۍ رڼا ته یې کتل.

د سیلۍ د سترګو انعکاس( غبرګون ) یې د خپل ذهن په هنداره کې تصور( خیال ) کړی وو،په زړه کې یې داسې اور بل و

چې د کلي د یخې سهر هوا هم نشو مړولاې.

د سهار له لمانځه وروسته چې د کلي خلک خپلو کارونو پر لوري روان شول،امید ځان د انارو باغ ته ورساوه..

هغه باغ چې امید له خپلې شهزادګۍ سره لیدنه کړې وه چې ددوي د کور تر شا وه

د سیلۍ دوي کور د باغ بلې غاړې په څنډه کې پروت وو.

ketabton.com - The Digital Library



د باغ له منځه د انارو ونو تر څانګو هغې د کور یوه برخه ښکاریده.

امید د یوې ونې سیوري ته کیناسته، یو وړوکې کاڼې یې پورته کړ او په لړ زور سره یې د سیلۍ د کړکۍ خواته ګوزار کړ

درې ځل دا کار یې وکړ ترڅو د کړکۍ پرده ورو ،ورو څنګ ته شوه او د هغې د شین ټیکري لاندې د سیلۍ مخ راښکاره شو

دواړه موسکۍ شول،خو دواړه پوهیدل چې دا موسکا دومره ساده نه ده دا موسکا د یوه راز دروازه ده چې که څوک پرې خبر شي

د دوي دواړو ژوند به بدل کړي.

سیلۍ ورو وویل: امیده! خلک بد دي که پوه شي نو زمونږ د دواړو پایله به ښه نه وي..امید د سترګو په ژبه ځواب ورکړ

داسې ژبه چې د ټول عمر ژمنې پکې ول...

د څو ورځو لپاره د دوي ترمنځ هره شیبه د زړه له خبرو ډکه وه خو هماغه رازونه چې مینه یې خوندوره کوي

کله،کله د ویرې زهر هم ورسره وي.

د کلي یوې زړې ښځې چې د هرچا په ژوند کې د لاس وهنې عادت درلود،یوه ورځ د امید دوي کور مخې ته ناسته وه او د سیلۍ

د خونې کړکۍ خواته کتل،ښځې د خپل زړې ژبې ګوزار پیل کړ: زویه! د کلي د نجونو کړکۍ ته کتل ښه کار نه وي.

امید موسکې شو خو د زړه درزا یې تیزه شوه ځکه پوهیده چې دا خبره به لکه اور د کلي په ټولو خولو کې وګرځي.

د ماذیګر لمر چې وغورځید کلي ته یو ډول ناکراري راغله لکه هر څوک چې د کوم راز بوي احساس کړي

سیلۍ په خپله خونه کې ناسته وه او د خپلې مور د زړو ګوتو څخه یې د ململ ټوکر تاووه،خو ذهن یې بل ځاې وه..

هغې د کړکۍ له شا د امید د سیوري تمه درلوده خو د ویرې له امله یې زړه هم د تُند درزا احساس کاوه

په همدې شیبه امید یوه پټه لاره غوره کړه..!

د باغ له منځه د هغې د کړکۍ لاندې ورسید د خپل جیب نه یې یو وړوکې کاغذ راوویسته پکې یواځې یوه کرښې لیکلې وو:

**که سبا ماته رانشی زه به هم له دې کلي نه ورک شم.**

کاغذ یې د کړکۍ لاندې کیخوسته او لکه باد په تیاره کې ورک شو.

سیلۍ د سهار له آذانه مخکې کاغذ ولیده..زړه یې ولړزید سترګې یې له اوښکو ډکې شوې،ځکه پوهیده چې سبا د دوي د ژوند

یوه لویه پریکړه ده..سبا چې سهر شو سیلۍ ګامونه د باغ په لوري پورته کړل.

ketabton.com - The Digital Library


امید د باغ په منځ کې د هغې انتظار کاوه، تر رسیدو وروسته دواړو د څو شیبو لپاره یواځې یو بل ته کتل

هیڅ خبره یې ونه کړه ځکه کله،کله مینه دومره ژوره وي چې خبرې بې معنا شي.

خو همدلته د باغ له بلې غاړې یو څوک راښکاره شو،یو داسې څوک چې نه یې د دوي مینه زغملای شو او نه یې د راز ساتلو

د کلي د ملک زوی و،چې فهیم نومیده دا هغه کس و چې د سیلۍ د سترګو لپاره یې ورځې سبا کولې او ورپسې لیونې شوی وو..

هغه هم داسې لیونې چې سیلۍ ورسره مینه نه درلوده او هیڅ کله یې د زړه ور ورته نه وه پرانیستې.

تر دې پورې چې خبره معلومه شي فهیم په امید باندې د سوک ګوزار وکړ، امید پر ځمکه پریوته او پوزه یې وینې شوې وه

فهیم په غوسه ناکه لهجه وویل:

**ته پوهیږې چې زه له سیلۍ سره څومره مینه لرم؟**

**ما تر ننه پورې د سیلۍ له سترګو سره مینه کړې او تا څنګه جرعت وکړ چې زمونږه د مینې پر ورانډې خنډ شې؟**

فهیم بیا ځل د وهلو لپاره امید پسې شو..

سیلۍ ژړل داسې په چوپتیا سره یې ژړل چې د سترګو څخه یې د اوښکو سیلاب بهیده،ناڅاپه د سیلۍ نازکې شونډې

وخوځیدې: بس دې نور ستا دا چټیات نه شم زغملاې بس که د خدای او رسول روې ومنه..

فهیم وویل: ما ستا لپاره د غمونو شپې سبا کړي پرېښېږده چې دا... سیلۍ خبرې یې پرې کړې..

ـ زه هیڅکله تاسره مینه نه لرم،ښه په غَور سره واوره زه یواځې او یواځې له امید سره مینه لرم.

لومړې الفاظ وو چې د سیلۍ له خولې د امید لپاره ووتلې.

فهیم هڅه کوله چې انجلۍ ته سپیره ورکړي خو امید د هغه د ناوړې کار مخنیوای وکړ..

امید: بس دې ما ستا ډېر خاطر وکړ اوس به زه وګورم چې له مانه زما مینه څوک جلا کوي حتی که د سر توان هم پکې وي.

فهیم د څو ګامونو اخیستلو سره سیلۍ ته زیاته کړه:

**ستا لپاره شرم نشته د کلي خلک به دې نوم واوري بیا به دې څوک نه غواړي.**

امید غوسه ونیوه خو د سیلۍ د سترګو ویره یې ولیده او پوه شو که دلته شخړه جوړه شي دا به ټول راز په یوه شپه له منځه لاړ شي

هغه په ټیټه خو په ټینګه لهجه وویل: ته څوک یې چې زما د زړه د خبرو مخه نیسې؟

ketabton.com - The Digital Library



زه له سیلۍ سره تر عمره ژوند تیروم او پریږ به يې نه ږدم چې د سیلۍ یو تار ویښتانو ته زیان ورسوي پوه شوې اوس نو ورک شه زمونږه له مخې.

فهیم د دې خبرو سره د غوسې نه ریږدیده سترګې يې توري شوی او له جیب نه يې کوچنۍ چاړه راوویستله...

سیلۍ چیغه کړه خو امید د مرګ له ویرې نه پرته مخکې ګام واخیست.

دواړه سره ښکیل شول د غوسې او ویرې ترمنځ د انارو د باغ پاڼې له ونو را غورځیدې او د شنو څانګو په منځ کې د دوي ساه ګانې کډې شوې.

فهیم هڅه وکړه چې د چاړې ګوزار وکړي خو امید يې لاس ونیوه او دواړه د یوې ونې تر سیوري لاندې راولویدل.

سیلۍ د امید لپاره سلګۍ وهلې د اوښکو سیلاب د سیلۍ پر سره او سپین بارخوګانو نرۍ لاره جوړه کړې وه.

په دې شیبه کې امید د فهیم لاس ته کلکه څپه ورکړه،چاړه يې له لاس نه ولویده او په خاورو کې ښخه شوه..

امید د سیلۍ لاس په خپل لاس کې ونیوه او په ټیټه لهجه وویل: هله ژر پاڅیږه چې له دې ځایه لاړ شو..

دواړه په منډه د باغ له منځه ووتل،د انارو وچې پاڼې د دوي د ګامونو لاندې کرښې،کرښې کیدې لکه د دوي د برخلیک ماتې شوي لارې.

د باغ وروستۍ څنډې ته چې ورسیدل د لیرې نه يې فهیم د چیغو غږونه اوریدې چې خلک راټول کړي:

**خلکو هله ژر راځئ چې دوه بې شرمان د کلي نوم خرابوي او عزت به مو د خاورو سره خاورې کړي...**

سیلۍ او امید د کلي له سرک نه تیر شول او د غرونو خواته وختل.

د لمر وروستۍ وړانګې د سیلۍ په پر نازکه څهره رڼا کوله لکه د ځوارلسمې سپوږمۍ پشان.!

په دواړو کې د ویرې او هیلو یو ګډ رنګ خپور وو په زړه کې پوهیدل چې دا تیښته د عادي تګلار نه اوړده ده، دا د ژوند او مرګ ترمنځ وروستۍ منډه ده.

دواړه د غرو سرنو ته ځانونه ورسول مجبوره شول چې شپه په غره کې تیره کړي.

د ډیرو ځنګلونه په منځ کې ځانونه ځاې پر ځاې کړ د وحشي حیواناتو غږونه سیلۍ داسې رپوله چې د لړزې لا امله سپین او منظم غاښونه يې یو پر بل لګیدل،امید د خس ټولولو لپاره را پورته شو سیلۍ وربانديې غږ کړ:

ketabton.com - The Digital Library



چیرته ځی امیده؟

ـ ځم چی لږ خس راټول کړم ستا به یخني شوي وي.

انجلی د سر په خوځولو خبره تائیده کړه،امید د تیارې په څپو کې ورک شو ناڅاپه د یوه ځناور غږ راغې سیلی چیغه کړه:

امیده ژر راشه زه ویریږمه!

مه ویریږه زه درسره یم ګرانې لږ صبر وکړه دادې راغلم..

د غرونو په لمنو کې هوا ډیره سړه وه،امید خپله کورتۍ په سیلی باندې خوره کړه.

که څه هم د ویری له لاسه د سیلۍ سترګې نه پټیدلې خو د خوب څپی یې ورته بانه پر بانه سریښ کړ او په درنه خوب ویده شوه..

امید خپل لاسونه کلک نیولي و، د ساه اخیستلو شور یې د زړه له تیز درزا سره ګډ و.

د کلي له لوري د ناپیژندو ځناورو آوازونه راتلل او د خلکو انګازی هم غبرګون ښوده..

د سهار له نهو بجو هم اوښتی وې خو امید او سیلۍ دواړه په درانه خوب ویده ول،د لمر وړانګې د امید سترګې وبریښولې

په بل اړخ اوښتلو سره سم راویښ شو.

سیلۍ لا هم پرته وه امید د هغه سپین مخ ته کتل او زړه یې نه غوښتل چې راویښه یې کړي خو بیا هم اړ وو چی پاڅوي..

سیلۍ یې وخوځوله هغه په درانه خوب ویده وه هیڅ یې خوب له سترګو نه تښتیده خو بالاخره هغه هم راویښه شوه.

امید د خوړو اخیستلو لپاره له غره ښکته کیده چې ناڅاپه پښه یې وخویده سر یې له کلکې ډبرې سره ولګیده سیلۍ ورپسې منډه

کړه خو امید بې هوښه پروت و د امید سر یې په خپلو ځنګنونو کې کیښوده.

د سیلۍ له خولې نرۍ چیغه ووته: نه نه امیده سترګې پرانیزه زما غږ اورې..او خداې دا ټول زما له امله دې..

سیلۍ سلګې وهلې ناڅاپه پاسیده او د اوبو په لټه کی شوه ناچاره انجلی له غره راښکته شوه نازکو پښو کی یې اغزي هم تللي و

د غرو د لمنو په څنډه کې یو کور پروت وو سیلۍ د کور ور وټکوله یوې ښځې ور پرانیسته د انجلۍ اوښکې،پای لوڅه پښې

او په خاورو لړلي جامې ولیدې انجلي ته یې په غوسه ناکه لهجه وویل: تاسو خیرګرې هیڅ حیا نه لرئ؟

ـ نه زه خیرګره نه یم زه د اوبو په لټه کی یم که تاسو لږې اوبه راکړئ..خبرې یې پرې شوې.

نه موږ کره کوهي نشته څو قدمه مخته لاړه شه هلته به یوه کوهي په مخه راشي.

ketabton.com - The Digital Library



سیلۍ د ستړیا ،ولړه او د غمونو له امله داسې قدمونه اخیستل ته به وایې ښه نشه یې کړې.

بالاخره هغه کوهي ته ورسیده لوټه یې له اوبو ډک کړ او بیرته د غره په لوري وخوځیده...

سیلۍ ډیره ستړې شوی وه حتیٰ دومره ستړې شوی وه چې سترګو باندې تیاره څپې وهلی، د امید سر ودریده هغه لا هم بې هوښه پروت و او له سر نه یې وینې روانې وی سیلۍ سلګۍ وهلې له خپل ټیکري نه یې ځنډه پریکړه او د امید سر یې پری ټکور کړ ترڅو د وینې له تویدو مخنیوې وکړي.

اوبه یې د امید پر مخ وشیندلې خو کوم غبرګون نه ښودل کیده..شیبې همداسې تیریدلې چې ناڅاپه د امید لاسونو رپ وواهه..!

سیلۍ په خوښي د امید خواته نژدی شوه د امید سر یې په خپل ځنګنو کیښود اوبه یې پر مخ وشیندلې..

بالاخره امید په هوښ راغې،سیلۍ ورته یوه کلکه غاړه ورکړه البته دا لومړې ځل وو چې ورته کلکه غاړه ورکړه.

انجلۍ: امیده! زما خو دې زړه وویسته ،که خدای مکړه په تا یو څه شوي وو نو ما به څه کړي وای؟

امید په یوه چاره خواړه پیدا کړل،خو خبره نوره هم لنډوم بالاخره د ماسپښین آذانونه وشول امید او سیلۍ تر لمانځه وروسته لاسونه د الله(ج) دربار ته لاسونه پورته کړل او د الله(ج) څخه یوه ګیله وکړله:

**ای پاکه ربه! دا خلک ولې زموږ مینې ته سپکاوې کوي آیا مینه کول ګناه ده؟**

**خدایه له مونږه داسی کومه ګناه شوې چې ته یې مونږ ته سزا راکوې؟**

ډیري ګیلې یې الله(ج) سپیڅلي دربار ته وړاندې کړل خو درد وو څه به یې کړي و..

د ماذیګر تر آذانونو وروسته په کلي آوازه ګډه شوه چې د غفار لور د هاشم له زوې سره تښندیلې،هرې خواته خلک زموږ په لټه کی ول.. د سیلۍ په سترګو کې اوښکې ډنډې شوې او ځانه سره یې دا ویل چې:

خدایه د ملک زوې زه په کلي کی په شرمونو وشرمولم ای خدایه ته یې د ښی ورځی څیښتن نه کړی الهي امین..

د امید زړه هم نرې شوی وو او د غمجنې صحنی په لیدو د ده له سترګو هم اوښکې لاړی.

دوي تر ماښامه پوری په ځنګله کی ځانونه خوندي کړ.

امید پوهیده چې که یوځل د غرونو بلې غاړی ته ورسیږي لږ وخت به یې د ژغورنې لپاره پیدا شي،خو د سیلۍ پښې د اوږدې منډې نه ستړي شوي وې.

ketabton.com - The Digital Library



څو ځله يې په اغزن بوټو کې پښه ټپي شوه امید د هغې لاس په اوږه کې واچوه او په نیمه غیږ کې يې پورته کړه د تیز ساه سره يې منډه واخیسته.

د غرونو منځ ته چې ورسیدل د سپو غپا لږه کمه شوه.

يخ باد څپې هم ډیرې وې هره څپه يې سیلۍ لړزوله خو امید په سیلۍ خپل جاکټ غوړولې و،سپوږمۍ هم پنځه لسمه ښکاریده ډیره ښکلې بریښیده او داسې رڼا يې کوله ته به وایې چې سپومۍ هم غواړي چې دواړه مئینان په تیښته بریالي شي..

د همغه د رڼا برکت وو چې امید په تیاره کې داسې مزل کاوه چې ګواکې ورځ وي.

د سترګو په رپ کې امید د غره لمنو ته ځان ورساوه،سیلۍ د ژړا او ساه اخیستلو ترمنځ ورو وویل:

امیده که موږ دواړه دلته مړه شو لږ تر لږه یو ځای به یو.

امید د هغې د خبرې په اوریدو زړه کې يې یو درد احساس کړ لکه چې مینه د دې ټولې جګړې یواځینې،ریښتینې پای وي خو بیا يې ځان راټول کړ،په ټیټه خو په پخه لهجه يې وویل: تر هغه وخته چې زه ژوندې یم،ته به ژوندۍ يې..

مړینه به زمونږه انتخاب نه وي،دا به د تقدیر لوبه وي.

د غرونو بله غاړه له لیرې وه خو دواړو د تیرو په منځ کې ورو،ورو نږدې کیدل ناڅاپه د تیارو نه دوه ټوپک لرونکو سړي سیوري راښکاره شول،د امید زړه بې واره شو دا د کلي د ملک وسله وال کسان وو.

ناڅاپه امید دوي باندې غږ وکړ: ودریږئ او لاسونه پورته کړئ کنه زړه پر تاسو نه سوځوم؟

سیلۍ د ویرې نه امید ته کلکه را ونغاړه،د زړه تونده درزا د دواړو په غږونو کې غریده خو د پښو لاندې خاوره لا هم غوښتل چې دوئ د تقدیر وروستۍ پړاو ته ورسوي.

امید سیلۍ له خپلې غیږې نه ښکته کړ او د ځان د ژغورلو لپاره يې یو نظر غوره کړ خو دا داسې نظر وو چې کیدای شو امید خپل ژوند هم له لاسه ورکړای وای خو هغې مرګ ځانته غوره حسابوه نه دا چې سیلۍ په کلي کې خلکو ته بدنامه شي،امید ځان په بهانې سره پر ځمکه ګوزار کړ سیلۍ چیغه کړه خو نه پوهیده چې دا د ځان ژغورلو لپاره یوه بهانه ده.

وسله وال حیرانه شول چې څه خبره ده،هغوئ د امید خواته نژدې شول کله چې امید يې له ځمکې پورته کاوه امید په چالاکۍ سره له یوه وسله وال نه وسله واخیسته او دواړو ته د وسلې میل تاو کړ په تیزه لهجه يې وویل:

ketabton.com - The Digital Library



وسله دې وغورځوه کنه خو بیا پوهیږې چې زه هیڅکله پر تاسو زړه نه سوځوم.

بل وسله وال هم خپل ټوپک ګوزار کړ امید سیلۍ ته وویل: هله ژر شه د هغه وسله پورته کړه.

سیلۍ په ارامۍ سره وسله پورته کړه او د وسله والو خواته یې ونیوه.

امید د وسله والو خواته نژدې شو او د دواړو لاسونه، خوله او پښې یې کلک سره وتاړه،امید او سیلۍ دواړه د سترګو په رپ کې ځانونه په تیارو کې ورک کړ.

د شپې تر دوه بجو دوئ مزل وکړ یوه بل کلي پورې ځانونه رسولي وو، امید هم خوبه وړې وه سیلۍ خو لا وختي د امید په غیږه کې ویده شوې وه امید هم اړ شو،

چې یو داسې ځای ځانته پیدا کړي چې دوي پکې ځانونه خوندي احساس کړي خو بالاخره د هدیرې شاته سیمه کې د یوې لویې ونې لاندې ځای غوره کړ او د شپې سبا کولو لپاره هلته تم شول.

د سهار آذانونه کېدل امید د آذان په اوریدو را ویښ شو هغه پر یوه پاکه خاوره تیمم وواهه،

لمونځ یې د ونې لاندې ادا کړ سیلۍ ډیره بې خوبه وه نه یې غوښتل را ویښه کړي هغه هم بیرته ویده شو.

د لمر وړانګې هم د دوي د مینې غوندې لږ را ړنګ شوې و او د کلي پر غرونو یې خپل زخمي شوي ورزې خورې کړې وې

د لمر وړانګو هر ځل دوي را ویښول داسې معلومیده چې لمر هم غوښتل چې دوي دې خپل هیلو ته ورسیږي.

امید را ښکته شو کلې بیخي نوې وه پخوا دې کلي کې په شمار کورونه و خو اوس پرمختګ یې کړې وو کلي کې کورونه بې حده زیات شوي و ـ امید د یوه کور دروازه وټکوله..

یوه تنکي ځوان دروازه پرانیسته امید ورته سلام واچوه: سلام علیکم ورور جانه!

ځوان: علیکم السلام وبخښئ ومې نه پیژندئ تاسو څوک یاست؟

ـ وروره زه د لیرې ځایه راغلې یم نپوهیږم چې دا کوم ځای دی او بلد هم نه یم ـ ما ویل که لږ د خوړو مرسته راسره وکړئ؟

ځوان وویل: ولې نه په دواړو سترګو راځئ دننه!

ـ ورور جانه نه کیږي چې په یو څه کې راته راکړې؟

ځوان: سمده ته دوه دقیقې صبر وکړه زه به یې راوړم..

ketabton.com - The Digital Library



څو شیبې وروسته ځوان امید ته ګرمه ډوډۍ،ملاېي(قیماق) او ورسره د چایو ډک ترموز ورکړ امید ترینه مننه وکړ او د سیلۍ خواته تری روان شو...

سیلۍ د امید د راتلو په انتظار ناسته وه هغه د خوړو په لیدو خوشحاله شوه ځکه هغه ډیره وږې شوی وه.

امید پوهیده چې په دی خوړو باندې چاره نه کیږي هغه له خپلې برخې لږ څه سیلۍ ته ورکړه د امید په لږو چاره کیده ځکه د ښځو سربیره د نارینه وو مقاومت لږ څه زیات وي.

د هدیرې په شاوخوا برخو کې هیڅ څوک نه اوسیدل یواځې یو څو کورونه وه چې هغه هم لږ لیرې ول دواړه د یوې نا بلدې سیمې پرلوري وخوځیدل.

تر څلورو ساعتونو له مزله وروسته یو داسی سیمې ته ورسیدل چې د غرونو په منځ کې وه هغوی د یو کور دروازه وټکوله..

داخل د یوې انجلۍ غږ راپورته شو: څوک دي؟

امید سیلۍ ته اشاره وکړه چې ترڅو ځواب ورکړي ـ سیلۍ غږ وکړ: خور جانې دروازه خلاصه کړه؟

انجلۍ دروازه پرانیسته د سیلۍ په لیدو یې وویل: راځئ دننه؟

ـ خورجانې زمونږه موټر خراب شوی، جوړیدل یې ډیر وخت نیسي موږ په دی کلي کی بلد هم نه یو؟

ولی نه په سر سترګو راځئ دننه تاسو زمونږه میلمانه یاست.

ـ مننه خیر یوسې!

سیلۍ امید ته وکتل امید ورته د ننوتو اشاره وکړه او سیلۍ له انجلۍ سره کور ته ننوته..

انجلۍ: خورې ستا نوم څه دې؟

سیلۍ وویل: اصلي نوم مې سارا ده خو ټول راته په سیلۍ وایي.

ډیر ښه ښایسته نوم دی دې. وروسته انجلۍ سیلۍ سره لاړه خونې ته او د انجلۍ پلار د امید سره ستړي مشي وکړ او دواړه کور ته دننه شول.

انجلۍ: سیلۍ جانې! یوه پوښتنه درنه کولای شم؟

ـ هو ولې نه ګرانې!

ketabton.com - The Digital Library



انجلی: داسې ښکاري چې یوه پیښه مو کړي وي خیریت خو به وي انشاءالله؟

سیلی مجبوره شوه او د خپل ژوند ټوله کیسه ورته وکړه:

خورجانې! زه او امید هغه هلک چې له پلار سره دی بلې خونې ته ولاړه یو بل سره مو مینه درلوده خو د قسمت او تقدیر فیصلې له موږ سره ملتیا ونکړه او موږ دې ته اړ شو چې خپل کور او کلې پرېږدو درې ورځو مو مزل وکړ ان تر دې چې بالاخره دلته ورسیدو که چیرته هغوئ مو پیدا کړي نو وژني مو.،،

سیلی سترګې له اوښکو ډکې شوی او په ژړغوني غږ سره یې انجلی ته وویل: وبخښئ ما لږ مخکې تاسو ته درواغ وویل.

انجلی: هیڅ پروا نه کوي زما هم خوښیږي چې له مئینانو سره مرسته وکړم، سیلی جانې ته ولې ژاړې ته پر خدای باور ولره هر څه به خدای سم کړي. اوس ته وخانده لږ چې زه دې غاښونه وشمارم

سیلی هم په نه زړه یوه ښایسته او له نازونو ډکه موسکا وکړه دواړه غبرګه کړه.

سیلې له انجلی وپوښتل: ما خو ستا د نوم هم ونه ویل؟

انجلی: زما نوم زلیخا دی خو د کلي انجونې راته په زلځو وایې دواړو یوځل بیا وخندل.

***

ځوانه ستا نوم څه دې؟

امید: اکا زما نوم امید دې زه د کابل له سروبي ولسوالی څخه یم زیاتره ژوند می په ننګرهار کی تیر کړې دلته د ملګري کور ته راتلم چې په لارې کی موټر خراب شو او موږ ته یې وویل ترڅو چې موټر جوړیږي کیدای شي ماذیګر شي.

نو موږ هم اړ شو او دی کلي ته راغلو.

امید مجبوره و چې درواغ ووایې البته له دی نه مخکې هغه هیڅکله په ژوند کی درواغ نه وو ویلي.

د زلیخا پلار ورڅخه بیا پوښتنه وکړه: امیده زویه تا زده کړه کړې مطلب دا یعنې ښوونځې دی ویلای؟

ـ هو ښوونځې می ویلای او پوهنتون زده کړه مې هم کړې خو د بیکاری له وجې دنده هم نشته.

خو بالاخره د غرمې ډوډۍ تیاره شوه دوي هم په مړه ګیډه ډوډۍ وخوړه دی او خپل لمونځونه یې وکړل،امید د لمانځه نه وروسته د الله(ج) دربار ته خپل لاسونه اوچت کړ: **ای خدایه زه خو نور نه پوهیږم چې چیرته او کومې خواته لاړ شم یا خدایه ته مهربان**

ketabton.com - The Digital Library



**ذات یې ته له مورې سره مرسته وکړه او څه چې مو په تقدیر کې وي هغه رامنځته کړه...**

جاینماز یې راټول کړ او په سوچونو سوچونو کې د خوب غیږې ته ورغې..

د درې نیمو بجو شاوخوا وو چې د ماذیګر آذانونه وشول لمونځونه یې ادا کړل او د سفر کولو ته یې نیت وکړ،سیلۍ له زلیخا خدای په اماني وکړه امید هم له میلمه پالنې یې د زلیخا له پلار څخه مننه وکړه او له کور نه رخصت شول..

هغوي دواړه د خامه سړک لخوا ځانونه د غرونو لمنو ته ورساوه، امید کله چې لاسي ګړی ته وکتل تقریباً د ماښام آذانونو ته لا لس دقیقې پاتې وې.

***

د غرونو سره کمر داسې معلومیده لکه چې د وینې رودونه وي خو دا د لوې الله(ج) خلقت وو چې په غرونو کې اچولې و.

د غره په سر د یخ بادونو څپې داسې لګیدې چې د هر انسان زړه دننه یې لړزاوه، امید او سیلۍ د دمې لپاره په یوه کمر کیناستل سیلۍ په سترې ژبه پوښتنه وکړه: امیده مورې اوس کوم خواته ځو ؟

امید: نه پوهیږم خو زه چې کله له کاره ستنیدم نو هاااغه لاره چې درته ښکاري له هغې لارې راغلم،زما یو ملګرې هم وو چې کلکه ملګرتیا یې راسره لرله،هغه لکه چې له دې غرونو وروستۍ کلي کې ښکته شو..

نه پوهیږم چې هغه به په کوم ځای کې به وي،خو خیر مورې به خپل تګ ته دوام ورکړو.

همغه کلي ته ورسیدل کوم کلي کې چې د امید ملګرې اوسیده، د شپې تقریباً اته نیمې بجې وې کلي کې چوپتیا خپره وه خو کله، کله د یوه کور څخه د سپي د غپا آواذونه هم پورته کیده.

امید نه پوهیده چې ضمیر(ملګرې یې) به چیرته اوسیږي په دې دومره کورونو کې خو په دې وخت کې ته بیا د قسمت کارونه وګوره ضمیر د دوي شاته روان وه امید داسې فکر کاوه چې دا مورې لپاره خدای رالیږلای.

امید ودرید او وربانده یې غږ وکړ: ضمیره ودې نه پیژندم؟

ضمیر: څه امیده ته دلته څه کوې لکه چې لاره دې غلطه کړې که څنګه؟

امید راشه یاره .

امید له ضمیر سره روغبړ وکړ: ضمیره ته په خداې باور وکړه چې ته د خدای لخوا مورې ته رالیږل شوې یې.

ketabton.com - The Digital Library



ضمیر: امیده راځئ چې کور ته لاړ شو تاسې به ډېر ستړي یاست؟

ـ ولې نه راځه چې ځو،د سترګو په رپ کې کور ته ورسیدل ضمیر دروازه خلاصه کړه او دننه ننوت امید او سیلۍ هم ورپسې...

ضمیر سیلۍ ته په نرمه لهجه وویل: خورې! ته هغه بل خونې ته ولاړه شه ته به ډیره ستړې شوی يي.

سیلۍ بلې خونې ته ننوته پر تخت يي ځان واچاوه او په درانه خوب ویده شوه.

امید لومړې اودس بیا ورپسې او خپل مسافرانه لمونځ يي ادا کړ، هغه ته هم ډېر خوب ورغلی و هغه هم په درانه خوب ویده شو.

***

د سهار اته نيمو بجو شاوخوا د زلیخا دوي د کلي جومات په منبر کې یو اعلان وشو:

**خلکو یو ضروري اعلان واورئ په دی کلي کې موږ د یوې نجلۍ او یو هلک چې امید نومیږي په لټه کی یو که هر چا و هغوي ته پناه یا هم لیدلي وي موږ ته يي وسپارئ، او که ومو نه سپاره نو هغه به له دې کلي وشړل شي.**

په دې کی دغه اعلان د زلیخا د پلار تر غوږو شو ناڅاپه يي خپل لور ته وویل: لورې! دا هغه ځوانان نه ښودي چې پرون موږ کره راغلي و؟

ـ نپوهیږم پلار جانه خو کیدای شي همغوئ وي.

زه باید لاړ شم او هغوي ته هره خبره وکړم هسی نه چې خلک ووايي چې هغوئ پرون موږ کره ول او له کوره به مو پسې واخلي.

د زلیخا پلار د جومات خواته حرکت وکړ تر رسیدو وروسته هغه څو وسله وال کسان ولیدل چې په اوږو کی يي توپکونه ځوړند ول هغه یو وسله وال خواته نژدې شو او ورته يي وویل: تاسو چې کوم هلک او انجلۍ پسې ګرځئ هغه پرون موږ کره ول..

وسله وال کس د خبرې په اوریدو سره يي وویل: که ملک صیب خبر شي پوهیږې څه کیږي؟

دی کې نو د ملک وحشي زوې راغلې وی ویل: دلته څه خبره ده؟

وسله وال: ښاغلیه! دا سړی وايي چې هغوئ دواړه پرون موږ کره ول.

ـ څه ووایه هغوئ دی چیرته پټ کړي دي ـــ سړې يي له ستونې خپک کړ هله ژر شه ووایه؟

ملک صیب هم راورسیده د دوي په لیدو سره يي خپل زوې ته کلکه څپړه ورکړه: خوشې که درته وایم؟

ملک صیب له سړي څخه بخښنه وغوښته: بخښنه غواړم دې په ځان کی نه دې لږ څه په غوسه دې،ښه تاسو څه لپاره راغلي یاست؟

ketabton.com - The Digital Library



ــ ملک صیب تاسو چې کوم انجلۍ او هلک په لټه کې یې هغوئ پرون موږ کره ول.

ملک صیب: ښه نو اوس چیرته دي؟

ـ پرون موږ کره راغلل او ما ته يې وویل: **چې موږ د ملکري کور ته مو راغلي یو خو په لاره کې موټر خراب شو او موږ ته یې وویل چې تر ماذیګره وخت نیسي موږ هم تاسو د کور ور وټکاوه.**

ما هم ورته ځای ورکړ؟

ملک صیب: ښه هغوي بیا چیرته ولاړل؟

ـ نپوهیږم خو زموږ د کور مخې نه یو خامه سړک غځیدلی د هغې لارې بیرته ولاړل .

ملک صیب خپل وسله وال را ټول کړ او حرکت يې وکړ...

ملک صیب دوي همغه خامه سړک تعقیب کړ چې د زلیخا پلار ورته ښودلې وو،خو دا خامه سړک همغه کلي ته غزیدلې و کوم چې امید دي پکې ول.تقریباً څلوېښت دقیقې مزل وروسته کلي ته ورسیدل.

د کلي په کوچني جومات کې يې اعلان پیل کړ: **دی کلي ته دوه نابلده کسان چې یو يې انجلۍ او بل يې د امید په نامه هلک دي موږ يې په لټه کې یو که چا ورته پناه ورکړې وي نو موږ ته يې وسپارئ که نه نو موږ اړ کیږو چې خپله ستاسو کور ولټاوو.**

امید او ضمیر دواړه ناست ول، امید خپل د ژوند کیسه یې ورته کوله خو اعلان په اوریدو ناڅاپه غلې شو.

سیلۍ هم په منډه امید خواته راغله: امیده داڅه خبره ده؟زه ډیره ویریږم!

ـ مه ویریږه ګرانې زه درسره یم هرڅه به خدای سم کړي.

ضمیر وویل: امیده! تاسو خپل ځانونه په لاندې تهکوي کې خوندي کړئ تر هغه وخته چې هغوي بیرته تللي نه وي.

امید او سیلۍ د ضمیر خبر تائیده کړه او تهکوي ته داخل شول.

ساعتونه وروسته د ضمیر د کور دروازه وټکیده ضمیر د بیاځل دروازې په ټکیدو سره يې پرانیسته څو وسله وال کسان ول:

ـ موږ غواړو ستاسو کور و پلټو ؟

ضمیر: ولې نه راځئ!

د ضمیر زړه درزیده چې په تهکوي کې هغوی پیدا نکړي او زه به هم برباد شم.

ketabton.com - The Digital Library



خو خوش بختانه وسله والو کور وپلټو خو هغوئ یې پیدا نکړل هغوي هم بیرته اړ شول چې له کور نه ولاړ شي.

امید او سیلۍ له تهکوي نه راپورته شول سترګې یې د لمر په رڼا وبریښېدې امید ضمیر ته وویل:

دا احسان به دی هیڅکله هیر نکړم!

ـ پروا نلري امیده آخر زه خو دې ملګرې یم نو بل کومې ورځې ته په درد خورم هر بدې ورځې ته درسره ولاړ یم..

تر ماذیګره پورې وسله والو پلټنې کولې، د ماذیګر لمانځه وروسته یې د منبر پر سره دا ځل یې جدي اعلان یې وکړ:

**یو جدي خبرداری واورئ! که هر چا مشکوکه انجلۍ او هلک ولیدل نو موږ ته یې وسپارئ او که کسان تاکلي وو نو هغه ته د ملک صیب لخوا انعام ورکول کیږي.**

په ټول کلي کې دا خبره خپره شوه او هر څوک د دې په لټه کې ول ترڅو مشکوک کس پیدا کړي په دې کې نو ضمیر وویل:

د دې کلي خلک ډیر وږي دي د پیسو لپاره خپل عزت هم خرڅوي.

امید وویل: موږ خو غوښته چې پاکستان ته ولاړ شو خو خبر نه وو چې له دی کلي لا وتلې نشو؟

ـ زما یو ملګرې دی هغه به تاسو تر خوست پورې ورسوي هلته د غلام خان بندر نه تاسو کولای شئ چې پاکستان ته قاچاق شئ!

امید: خو موږ غواړو له تورخم لارې لاړ شو!

ـ ګوره امید جانه! هلته تاسو لپاره خطره ډیره ده،که ستاسو خوښه وي نو زه به له خپل ملګري سره مشوره وکړم!

امید: کس اعتباري ده هسې نه چې د مرګ پولې ته مو ورسوي؟

ـ هغه زما د ښوونځي دورې ملګرې دی سر هم تر ما جاروي،زه به بیګاه ورسره وغږیږم که د خدای رضا وه.

***

شپه راورسیده او تیاره خپلې وزرې د پکتیا په وسلوالۍ خپرې کړې وې امید،ضمیر او سیلۍ داسې چوپتیا خوره کړې وه چې یواځې د زړه د دربا غږونه اوریدل کیده خو ناڅاپه د ضمیر اسویلي چوپتیا ماته کړه:

ای خدایه! دا څه عجیبه دنیا ده چې کله هلک له انجلۍ سره مینه وکړي نو انجلۍ یې له هلک سره نه کوي،که انجلۍ له هلک سره مینه وکړي نو هلک یې ورسره نکوي،که دواړه یو له بل سره مینه وکړي نو بیا یو بل ته نه رسیږي.

ناڅاپه یې موضوع بدله کړ: امیده تاسو خپله پریکړه وکړه؟

ketabton.com - The Digital Library



امید: هو موږ خپله پریکړه وکړه، ورسره ولاړ به شو خو چې کس اعتباري وي!

ـ ته بیغمه شه نور،د خپل جیب نه یې ټلیفون راوویست او خپل ملګري ته یې زنګ ووهه:

ـ سلام علیکم عزیزه ښه یې پخیر؟

علیکم السلام ضمیره ته په خپله څنګه یې ښه یې؟

ـ شکر فضل د خدای ده،خپله ښه یې کورنۍ دې ښه ده؟

شکر ټول ښه دي،خیریت خو به وي انشاءالله؟

ـ خیرو خیریت دې ما ویل که اوزګار اوسې موږ به ستاسو کورته راشو..

مهرباني وکړي ولې نه شئ راتللاې راځه زه هم په کور کې درته په تمه یم.

د څو شیبو په ترڅ کې امید دوي د عزیز دي کره ورسیدل،دوي چاې څښنه عزیز پیاله اوچته کړه چې ترې غړپ وکړي

خو ضمیر ورته خبره یاده کړه: عزیز جانه! دا زما ملګرې امید دې، تاته به مې هم د ده په اړه ویلي وي.

ـ ښه هغه خوش اخلاقه ځوان همدغه دې،زه خو لا وختي پوهیدم چې دی له نوم نه ښکاري چې خوش اخلاقه او با غیرته ځوان دی

ضمیر ورته وویل: غواړم یوه خبره درسره شریکه کړم خو د راز په توګه دا خبره دې باید د د دواړو ترمنځ وي:

ضمیر ورته د امید د ژوند ټوله کیسه ورته په لنډه توګه وکړه.

عزیز وویل: ته بیغمه اوسه زه داسی ډیر کسان پیژنم چې دوي تر پاکستانه ورسوي خو زه به دوي لومړې خوست د غلام خان

بندره پورې ورسوم.

عزیز د پیالې څخه وروستې غړپ وکړ او له ځایه د پاڅیدو سره سم یې وویل:

ضمیره! میلمانه د سهار په درې نیمو بجو تیار کړه چې له خیره حرکت دی.

امید دوي بیرته کور ته ستانه شول د منول خبره یې چې یې سیلۍ ته وکړه ډیره خوشحاله شوه او د خوشحالۍ نه ورته خوب ورنغې

تر نهه نیمو بجو شپو پورې یې تیاری نیول،خو بالاخره د سهار درې نیمو بجېو باندی دوي له ضمیر سره کور نه ووتل..

امید دوي خپل ځانونه د عزیز په بار بری موټر کې ځای پر ځای کړ،امیدله ضمیر سره مخه ښه وکړه خو د تلو په وخت کې ضمیر امید ته

د پیسو ځینې نوټونه ونیول.

ketabton.com - The Digital Library



امید په خندا کې وویل: ضمیره! دا احسان خو دی نه هیروم خو که ژوند یاري راسره وکړه او موږ دواړه یو ځای شو نو لومړنۍ لور به مې ستا نازولي زوی ته ورکړم..

ضمیر سر وخوځاوه موسکې شو او موټر حرکت وکړ.

د لارې په اوږدو کې د موټر تالاشي وه، امید او سیلۍ حیرانه شول چې اوس به څه چل کیږي؟

خو ښه و کوم جدي مشکل نه وو پولیسانو عزیز پیژانده یواځې یې سلام واچوه او موټر یې تیز کړ.

د ساعتونو په تیریدو سره دوي د خوست غلام خان بندر ته ورسیدل،امید او سیلۍ په آزاده توګه د موټر نه ښکته شول خو له بده مرغه دا آزادۍ یو څو ورځې وې،ځکه چې وسله وال د دوي لپاره تیارې کړځیدلي ول او هر ځای یې پیدا کولای شوای.

دوي هلته د اوسیدو لپاره په هوټل کې یوه خونه ونیو.

***

د ضمیر دوي کلي کې یو کس وو چې ضمیر دوي یې څاره هغه پوه شو چې دا هغه کسان ول چې ملک صیب یې په لټه کې دې هغه د ملک کسانو ته خبر ورکړ چې دلته د ضمیر په نامه ځوان هلک او انجلۍ سره په تښتیدو کې مرسته کړی..

تر غرمې پورې د فهیم له خپل کسانو سره کلي ته ورسیدل،په بیړې سره د ضمیر د کور دروازه پرانیسته او ننوتل:

ـ څه خبره ده چې داسې بې له اجازې د خلکو کورونو ته داخلیږئ؟

فهیم ضمیر ته یو کلک سوک ورکړ: تا څنګه جرعت وکړ چې تښتیدلي کسانو ته پناه ورکړې..

لنډه دا چې ضمیر ته یې ډیر زورونه(شکنجه) ورکړه خو افرین دی داسی ملګري ته وي چې یو ټکې خبره یې ورته ونه کړه:

ـ که ما مړ هم وکړئ زه به تاسو ته د هغوئ ځای ونه ښایم.

په دې کې هغه څارونکې فهیم ته وویل: د ضمیر یو ملګرې دی چې یو لوی باربرۍ موټر لرې کیدای شي چې د هغه د موټر په مرسته تښتیدلي وي..

وسله وال د ضمیر کورنه ووتل او د عزیز کور په لوري وخوځیدل.

دروازه یې وټکوله.. عزیز ور پرانیسته خو فهیم د هغه د ګیډې پر سر ټوپک ونیوه: دننه ولاړشه!

عزیز هم پرته له پوښتنې کور ته ننوت، فهیم وویل: که غواړې چې کورنۍ دی ژوندي پاتې شي نو موږ ته به هرڅه صفا،صفا

ketabton.com - The Digital Library



وایي او هو د کوم دروغ ویلو هڅه ونکړې ځکه بیا نور خو ته خپله پوهیږې!

ـ سمده هرڅه چې تاسو وایې زه یې درته وایم خو زما کورنۍ ته څه مه وایئ هیله کوم؟

فهیم خپل کس ته اشاره وکړه هغه د عزیز کورنۍ خوشې کړه او بیرته یې عزیز ته وکتل.

ـ تاسو د یو ځوان او یوه انجلۍ په لټه کې یئ؟

هو ژر شه راته ووایه زه وخت نلرم.

ـ هغوي راڅخه هیله وکړه ترڅو یې خوست ته ورسوم.

د خوست کوم سیمې ته دې ورساوه؟

ـ غلام خان بندر ته. هغوئ غواړي چې پاکستان ته قاچاقي ولاړ شي.

وسله والو کس خوشې کړ او د خوست پر لوري وخوځیدل...

***

امید او سیلۍ د دوکانونو څخه د اړتیا وړ شیان واخیستل او بیرته هوټل ته ستانه شول.

د شپې په اووه نیمو بجو باندې د پاکستان په لوري حرکت وکړ،موټر ښه تیز روان وو خو تر ډیر مزل وروسته موټر ودرید.

له موټر نه ډیر کسان ښکته شوه،ځکه چې نور د پښو مزل و.

پوره شپږ ساعته دوي په پښو مزل وکړ،تقریباً ټول لس یا دولس کسانه ول خو کله چې قاچاقبر پولیسان وکتل نو په آرامۍ سره یې له

ټولو نه خپلې پیسې واخیستې او په خپل موټر کې وتښتید.

ټولو ورپسې منډه کړه خو هغه د سړکو په رپ کې ځان پناه کړ ټولو ورته ښیراوې کولې..

چې ناڅاپه د پولیسانو دفاعي ډزې وکړې ټول یوې او بلې خواته منډه کړه یواځې امید او سیلۍ پاتې شول هغوي هم د جنوب خواته

منډه کړه او ځانونه یې په دوو ساعتونو کې یو خوړ ته ورساوه،دوه ساعته مزل نور هم پاتې ول چې پاکستان ته واوړي

خو د خوړ په بله څنډه کې د امید دوي مخې ته یو تور رنګه ډاډسن ودرید.

امید سیلۍ خپل شاته پټ کړ،د موټر دروازه پرانیستل شوه څو وسله وال کسان او فهیم تری را ښکته شو.

امید د څو شیبو لپاره ودرید،د سترګو له کونج نه یې د دواړو وسله والو سیوري وکتل،د سپوږمۍ نیمګړې رڼا د ټوپکونو خوله ځلوله

ketabton.com - The Digital Library



سیلۍ د امید لاس کلک نیولې و،د ساه هره ویستنه یې د ویرې نه د ژړا په څیر وه.

فهیم چیغه کړه: که د بیاځل تیښتې هڅه وکړئ،تاسې دواړه به ځای پر ځای ووژنم.

امید پوهیده چې شاتګ معنا یې یواځې یوه ده هغه سیلۍ ته په ټیټه لهجه وویل: که ما ونه لیدې، مننه چې ته د ژوند

تر ټولو ښکلی دلیل شوې.

سیلۍ ژر د سر په خوځولو وویل: داسې خبرې مکوه ــ زه پرته له تا هیڅ یم.

وسله وال ورو،ورو نژدې کیدل،یو یې د ټوپک د دوي پر لور ونیو،خو امید ناڅاپي ډول د یوه لوې ډبرې ترشا ځان ورساوه

د سیلۍ لاس یې هم کلک را ښکله،د ټوپک لومړی ډزې د ډبرې په څنډه ولګیدې او د تیږې وریځې یې د دوي پر مخ خورې شوی

سیلۍ چیغه کړه خو امید د هغه لاس پرې نه ښود.

فهیم د دوي د چاپیره کیدو هڅه وکړه،د غره په تیاره کې د باد او ټوپک د ډزو ګډ غږ د زړه درزا سره ګډ شو،او

امید دوي هم تر ډیره مقاومت نه شوای کولای.

امید د سیلۍ سترګو ته ورو وکتل:

ــ که نن موږ مړه شو،نو مړه به هم یو بل ترخنګ شو ــ او که ژوندي پاتې شو.. بیا به هیڅوک مونږه جلا نکړې.

سیلۍ ورو موسکۍ شوه،داوښکو ترخنګ د هغې په سترګو کې یو ډول روښانتیا وه،لکه چې د پای خبرې د تقدیر وروستۍ کرښه ده.

وسلې د دوي خواته نژدې شوی او هماغه شیبه هغه د خپل ټول زور سره د یوه وسله وال خواته ودانګل.

امید هڅه وکړه چې د وسلې خوله بل غاړې ته کړې خو فهیم ډز وکړ له ډز سره یوه نرۍ چیغه هم څرګنده شوه. ډزو غږ د غرونو په

غیږ کې څو ځله انعکاس وکړ، بیا هر څه چوپ شول.د سپوږمۍ ساړه رڼا د وینو د څاڅکو په ځلیدو کې ورکه شوه..

یخ باد د وچو پاڼو پر سر تیریده او یواځې د امید د ژور ساه ایستلو غږ اوریدل کیده،هغه د ډبرې تر شا د سیلۍ لاس وتاړه خو

لاس یې یخ و لکه د ژمي د سهار خاوره.

امید ورو د سیلۍ مخ ور واړاوه د سپوږمۍ نیمګړې رڼا د سیلۍ پر مخ ولویده،شونډې یې د وینو په رنګ سرې وې،سترګې یې نیمه

پرانیستې،خو ساه یې دریدلی وه او له فاني نړۍ یې سترګې پټې کړې وې.

امید د څو شیبو لپاره باور نشوای کولای،په دواړو لاسونو یې سیلۍ په غیږ کې ونیوله،د زړه له تله یې چیغه کړه:

ketabton.com - The Digital Library



نه نه سیلۍ! وه سیلۍ سترګې پرانیزه هیله کوم داسې راسره مه کوه سیللللللللللۍ.

یوه داسې چیغه یې ووهله چې د غرونو په منځ کې یې څو ځلیز غبرګون رامنځ ته کړ،وسله وال هم تښتیدلي وو

یواځې د باد څپې د بارودو تریخ بویونه راوړل.

امید سیلۍ ته وکتل ورو یې غبر کړ: زه هم درسره ځم... که ته نه یې نو زه نور ژوند څه کوم.

په شپه کې یې د کمر بند څخه یو چاړه را وکښله،د سپوږمۍ رڼا د فولادو پر څنډه وځلیده، چاړه یې د زړه پر لوري نږدې کړ

خو په همدې شیبه یې د تیارو نه د سیلۍ د ورو،ورو موسکا انځور په ذهن کې وځلید لکه چې وایې:

**ته باید پاتې شی ــ زما د نیمګړي خوب بشپړولو لپاره.**

امید د چاړې ګوزار ونکړ د خپل ټول زور سره یې ژړا پیل کړ،داسې ژړا چې وینې او اوښکې په ګډه بهیدې

کله چې سهار شو د غرو له لمنې نه کلي ته یو بې روحه څهره ښکته شو،د سترګو تور رنګ یې ورک شوی و.

امید د سیلۍ جسد په یوه موټر کې واچاوه او د بیرته خپل کلي ته راستون شو.

***

د سیلۍ له مړینې وروسته امید د کلي یوې لیرې ګوټ په یوه وران شوي کور کې اوسیده.

هره شپه به د سپوږمۍ په رڼا کې د انارو د ونې سیوري ته کتل او د سیلۍ نوم یې ورو،ورو تکراروه..

داسې چې د عقل وروستي څراغونه یې هم ورو،ورو مړه کیدل.

د کلي خلک وایې: ترڅو چې غرونه ولاړ دي د سپوږمۍ په شپو کې د انارو د ونو لاندې یو سړی ناست وي

چې له تیارو سره خبرې کوي وایې دا هغه دی چې د خپلې مینې له لاسه لیونې شوې،خو لا هم د هغې نوم نشي هیرولاې.

کلونه تیر شول خو د کلي خلک لا هم د غرونو په لمنو کې د هغه وران شوي کور د کړکۍ نه د یوې سپینې څهرې د ښکاریدو کیسې

کول،وایې امید به هر ماښام د انارو باغ خواته ووت،د وچو څانګو لاندې به کښیناست او د سیلۍ لپاره به یې له وریښمو نه جوړ

ټوټې،ټوټې ټیکرې په لاس کې تاووه،لکه چې تمه لري هغه ته یې د بیرته راتګ په ورځ کې ورکړي.

هغه نه د کلي د خلکو خبرو ته غوږ نیوه،نه یې د وخت بدلون احساساوه.

د ژمي ساړه به راتلل،د واورو سپینه پټه به د غرونو پر څوکو خپریده،خو هغه به لا هم د یوې شنې سترګې په تمه و.

ketabton.com - The Digital Library



د پسرلي په شپو کی انارو د ګلانو خولګۍ پرانیستل کیدل هغه چی به کله ګل بویوه نو سترګې به یې پټې کړې او ورو به یې وویل:

سیلۍ ته راغلې؟

هیڅوک پوه نه شول چي ولې د هغه د سترګو تور رنګ ورو،ورو خړ کیده،خو هر څوک به ورته کتل ویل به یې چی د دې سړي روح د یوې نجلۍ په نوم بندیوان شوې دی.

د ماشومانو لپاره د هغه کیسه د ویروونکي افسانې بڼه لرله،خو د زړو لپاره دا د مینې هغه داستان و چې پای یې نه درلود.

یوه شپه چې د سپوږمۍ رڼا د باغ له وچو څانګو نه تیریده،امید د انارو د ونې لاندی ویده شو سهار چې لمر را وخوت،خلک د باغ خواته راغلل او هغه یې د سیلۍ په ټیکري کې راتاو مړ وموند.

د شونډو په ګوټ کې یې داسې موسکا وه لکه چې د خوب په وروستۍ شیبه کې له هغې سره یو ځای شوي وي.

د کلي د زړو ښځو ویناوه چی په هغه شپه د غرونو د باد په شور کې د یوې نجلۍ ورو ټیپې هم اوریدل کیده او له هغې ورځې وروسته څوک بیا امید ونه لیده،خو د انارو د ونو په څانګو د سپوږمۍ په رڼا کې دوه سیوري تل سره یوځای ناست وي.

د غرونو په لمن کې د انارو باغ هماغسې پاتې و،خو د هغه وچې څانګې نور هم زاړه او سترې ښکاره کیدل.

د سپوږمۍ په رڼا کې په کله نا کله دوه سیوري ښکاره شول،یو د اوږده قد او بل د نرۍ بدن،لکه چې د وخت له زولنو خلاص شوي وي.

خلک به ویل دا د امید او سیلۍ روحونو دي چې په ژوندون یو بل ته ونه رسیدل خو په مرګ بیا یو بل ته ورسیدل.

کلې ورو،ورو بدل شو،نوي کورونه جوړ شول،زاړه وران شول خو د انارو باغ ته چا زړه نه ښه کاوه چې ږنګ یې کړي.

وایي.. کله چې څوک به د شپې نیمه کی د باغ خوانه تیر شو د باد په شور کی به د یوې انجلۍ ورو ټپه او د یو هلک آرامه موسکا آوریده.

دا د هغو زړونو کیسه وه چې مینه یې د ټولنې د تاو تریخوالي او د تقدیر د تیارو تر سیوري لاندې وسوځوله،خو د مرګ په غیږ کی یې د آرام ځای وموند.

د دوي ژوند د یوې اوږدې ژوبلې لاری په څیر و،خو پای یې دومره ساده وو:

**دوه یخ لاسونه چې یو بل ته کلک نیول شوي وو او د سپوږمۍ رڼا چې د دواړو پر څهرو ورو،ورو خوره کیده.**

ketabton.com - The Digital Library



# پای

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*